
مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۳۹۹ د زمري اتمه | د ۲۰۲۰ د جولای ۲۹مه | ۵۷۶مه ګڼه

کتاب
۴ مخ

## د انسان کیسه



د دې کتاب لوستل د پښتون ټبر لپاره ځکه مهم دي، چې نړیواله مفکوره ورکوي او د انسان اړوند له يوې بلې او نوې زاويې خبرې لري، باید چې موږ داسې اثار ولولو څو د انسان د مسوولیت په رښتینې مانا پوه شو او ځان هڅسې وپېژنو په کومه مانا چې موږ دې نړۍ ته راغلي یو.

# خوشالي خو لنډمهاله؛
## طالبانو او افغان حکومت د اختر په دريو ورځو کې اوربند اعلان کړی دی



۳

اوربند؛ یو ښه چانس چې باید ضایع نه شي
۲ مخ

هغه سړی چې امریکا یې له افغانستانه و ایستله!
۲ مخ

د خپګان احساس او د بې سببه زړه تنګون لاملونه
۳ مخ

کرنې رياست:
## د هلمند د خرما په حاصلاتو کې د پام وړ زیاتوالی راغلی دی




د هلمند د کرنې او مالدارۍ رياست وايي، چې په دې وروستیو کې يې د ياد ولايت په مرکز لښکرګاه او يوشمېر ولسواليو کې د خرما ونې په فني او مسلکي توګه القاح، ښاخبري او اصلاح کړي چې حاصلات يې ور سره ډېر شوي دي.
د دې ترڅنګ هغو بزګرو ته چې، د خرما ونو بڼونه يې لرل، د خرما ونو د ښې روزنې او پالنې په اړه عامه پوهاوی هم ورکول شوی دی.
د دغه ولايت د کرنې رياست چارواکي وايي، چې اوسمهال د خرما هغه ونې چې عملاً القاح شوي، حاصلات يې ښه دي.
د دوی په خبره، تر دې مخکې د خرما دغو ونې حاصلات نه ورکول، خو وروسته تر دې چې دغه ونې القاح شوې او په دې برخه کې د خلکو عامه پوهاوی زيات شو، نو ورسره د خرما ونو حاصلات هم ښه شو.

## زلمي خلیلزاد د افغان سولې او بین الافغاني خبرو د راتلونکو ناستو په تړاو د ناروې له چارواکو سره خبرې کړې

د افغانستان د سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خليلزاد په افغانستان کې د سولې ټينګېدو په اړه د ناروې هڅې ستايلي دي.
په ناروې کې د امريکا سفارت په يوې اعلاميې کې ويلي چې خليلزاد ناروې ته د سفر پرمهال د دغه هېواد بهرنيو چارو له وزيرې او يو شمېر نورو چارواکو سره کتلي دي.
بيان وايي چې دواړو لورو په دغه کتونو کې د افغانستان د سولې بهير موضوع ارزولې ده.
په اعلاميه کې راغلي چې زلمي خليلزاد په افغانستان کې د سولې او ثبات ټينګېدو په اړه د ناروې هڅې مهمې بللې او په دې اړه يې د هغه هېواد مننه کړې ده.
د سرچينې په خبره: «خليلزاد د ناروې هېواد له چارواکو سره په خبرو کې هغوی ته د بين الافغاني مذاکراتو پيلېدو په برخه کې د پرتو خنډونو او همدارنګه د يادو ستونزو د هواري هڅو د څرګندوالي په برخه کې معلومات ورکړل».
په اعلاميه کې ويل شوي چې زلمي خليلزاد او د ناروې چارواکو د سولې خبرو کې د افغان مېرمنو پر فعاله ګډون هم ټينګار کړی دی.
دا په داسې حال کې ده چې زلمي خليلزاد د روانې مياشتې پر ۲۴مه د افغان سولې په اړه د افغانستان په ګډون پنځو هيوادونو ته سفر پيل کړ. د امريکا د بهرنيو چارو وزارت ويلي، په دوحه او کابل کې به سفير خليلزاد د بين الافغاني خبرو تر پيلېدو مخکې پاتې مسائلو د هواري په ځانګړې ډول د بنديانو د وروستۍ تبادلې او تاوتريخوالي کمولو باندې ټينګار وکړي.


## حکومت به ډېر ژر د پنځو زرو طالب زندانيانو د خوشې کېدو پروسه بشپړه کړي


۵ مخ

## سازمان ملل: سطح فقر در افغانستان تا آخر سال جاری از ۵۵ به ٦٨ درصد افزایش خواهد یافت



دفتر برنامۀ توسعه ای سازمان ملل متحد (یو. ان. دی. پی)، پیش بینی کرده که رشد اقتصادی افغانستان در سال جاری ۹ درصد کاهش خواهد داشت.
به این معنی که قبل از همه گیری ویروس کرونا انتظار می رفت تا اقتصاد افغانستان ۳ درصد رشد کند.
دفتر برنامۀ توسعه ای سازمان ملل متحد در افغانستان، دیروز یادداشت «ارزیابی تأثیرات اقتصادی - اجتماعی همه گیری ویروس کرونا بر افغانستان» را نشر کرد.
این دومین سلسلۀ از یادداشت‌های یو. ان. دی. پی در مورد افغانستان است که در آن به تاثیرات احتمالی شیوع همه گیری ویروس کرونا به طور کل و پیامدهای آن بر اهداف توسعۀ پایدار افغانستان بطور خاص، پرداخته شده است.
در یادداشت همچنان گفته شده، سطح فقر در افغانستان ۱۳ درصد بیشتر شده، از ۵۵ درصد به ٦٨ درصد افزایش خواهد یافت.
اما بانک جهانی در گزارشِ که اخیراً تحت عنوان «ایستادگی در برابر طوفان» نشر شد، هشدار داده که در سال ۲۰۱۷ میلادی ۵۵ درصد افغان ها زیر خط فقر زندگی می کردند، اما در سال ۲۰۲۰ میلادی به دلیل شیوع همه گیری ویروس کرونا این رقم به ۷۲ درصد خواهد رسید.
محمد اشرف غنی، رئیس جمهور افغانستان نیز ۱۸ جولای در مراسم آغاز برنامۀ «دسترخوان ملی» گفت که ۹۰ درصد مردم افغانستان زیر خط فقر دو دالری زندگی می کنند.

## دریـــځ

### اوربند؛ یو ښه چانس چې باید ضایع نه شي

طالبانو د اختر په دریو ورځو کې د اوربند اعلان کړی چې حکومت یې هم هرکلی کړی او ویلي یې دي چې امنیتي ځواکونو ته د اوربند مراعاتولو امر شوی دی. د دې تر څنګ حکومت ویلي چې د پینځه زره طالب بندیانو د خوشې کولو پروسه به ژر بشپړه شي او پاتې بندیان به هم خوشې شي.

د افغانستان د سولې په پروسه کې دا یو مهم پرمختګ دی؛ ځکه چې دوې اساسي ستونزې حل کېږي. حکومت د طالبانو پاتې بندیان نه خوشې کول او د دې لپاره یې متفاوت دلایل بیانول او طالبانو هم پر حکومت د فشار لپاره بریدونو ته زور ورکړی و. له همدې امله د بین الافغاني خبرو پیل ځنډېدلی و او جګړه هم زیاته شوې وه. حکومت له دې امله ګرم ګڼل کېده چې بندیان نه خوشې کوي او د سولې په لاره کې خنډونه جوړوي، خو حکومت طالبان له دې امله پړه ګڼل چې تاوتریخوالی یې زیات کړی او پر جګړه ټینګار کوي. اوس چې د اختر په مناسب طالبانو اوربند اعلان کړی، نو تاوتریخوالی به ختم او یا هم کم شي، چې په دې سره یو خنډ او پلمه له منځه ځي. حکومت به هم د اختر په پلمه او اوربند ته په غبرګون کې او یا هم د خلیلزاد د غوښتنې پر اساس پاتې طالب بندیان خوشې کړي او په دې سره به د بین الافغاني خبرو پر وړاندې یو بل اساسي خنډ هم له منځه ولاړ شي. طالبانو څو ورځې وړاندې ویلي وو چې که یې بندیان خوشې شي، نو له اختر وروسته بین الافغاني خبرو ته حاضرېږي او حکومت هم له طالبانو غوښتي وو چې تاوتریخوالی کم کړي او بین الافغاني خبرې پیل کړي. اوس چې تاوتریخوالی کمېږي او بندیان خوشې کېږي، نو د بین الافغاني خبرو پیل ته لاره هواره شوې ده.

د اوربند اعلان او د بندیانو خوشې کول باید د بین الافغاني خبرو د پیل لامل شي. له دې موقع باید ګټه واخیستل شي او پرې نه ښودل شي چې د سولې په لاره کې نوي خنډونه جوړ شي. اوس چې د حسن نیت او سولې یوه فضا برابرېږي، پکار ده چې دا حالت دوام وکړي او د خبرو له پیل سره لا زیاته شي. طالبان له اختر وروسته هم باید تاوتریخوالی کم وساتي، حکومت باید د حسن نیت په خاطر نور بندیان، په ځانګړي ډول ناروغان او سپین ږیري خوشي کړي او د طالبانو پر ضد توندې خبرې ونه کړي. دا چاره به فضا نوره هم مثبته کړي او د بین الافغاني خبرو له ښه پرمختګ او بریا سره به مرسته وکړي.

د سولې مخالفې کړې به هڅه وکړي چې شته مثبته فضا خرابه کړي، خو دا د ښکېلو اړخونو او ټولو افغانانو مسوولیت دی چې د خپل وس سره سم د مثبتې فضا له ساتلو سره مرسته وکړي. دواړه اړخونه باید له خپله اړخه نوره قرباني او انعطاف هم وړاندې کړي او له دې لارې د سولې له پروسې سره مرسته وکړي. دا اوربند یوه ښه چانس دی او پکار ده چې د افغانستان د دایمي سولې او ثبات لپاره ترې اساسي ګټه واخیستل شي.

# هغه سړی چې امریکا یې له افغانستانه و ایستله!

لیکوال: فضل من الله قاضي‌زی
ژباړن: جواد تیموري
سرچینه: ایشیا ټایمز

ملا ابراهیم صدر چې لومړی ځل په افغانستان کې له امریکایي ځواکونو سره مخ شو، هغه ته یې د وحشیانه جګړې داسې واقعیت په ډاګه کړ چې هېڅکله به یې هم هېر نه شي. د هغو کسانو لپاره چې نوموړی یې وروسته ولید چې د طالبانو د لیکو له منځه یې قیام وکړ او د القاعدې شبکې دننه یې درناوی ترلاسه کړ، د هغه هدف آن له هغه وخته په ډاګه کېږي.

د ۲۰۰۱ ز کال د مني موسم و، صدر د طالبانو له منځ پوړو قوماندانانو څخه و چې له کابل څخه د دفاع مسوولیت یې پر غاړه درلود. کله چې د متحده ایالتونو هوایي الوتکو ښار تر اور لاندې ونیو، هغه خپل جنګیالي په ټربنبنګ سمڅو او سوړو کې د دفاع لپاره ځای پرځای کړل، هغه له کیمیاوي وسلو څخه د ساتنې په موخه ماسکونه واغوستل، خو د نوموړي زاړه او پخواني تکتیکونه او وسایل د امریکایي هجوم په مقابل کې بې ګټې وو. د حاجي سید په نوم د هغه یو جنګیالی یوه صحنه په یاد لري او وایي: «په یوه بم سره د کابل ټول غرونه ولړزېدل».

هغه کسان چې په تېښته بریالي نه شول، یا د هوا له لارې د بي-۵۲ الوتکو او یا هم د ځمکې پر سر د طالبانو د مخالفو افغان ملېشو له خوا ووژل شول. صدر تر خپلې وسې وسې هڅه کوله چې قوي پاتې شي او دا ورته سخته وه چې ووایي چې په دې ځای کې د دوی پاتې کېدل او جنګېدل بې مانا دي. کله چې د طالبانو رژیم راوپرځول شو، هغه هم د جنوبي ولایت کندهار پر لور مخه کړه. له هغې وروسته نوموړی ورک شو او د اوسېدو ځای یې یوازې څو نږدې ملګرو او کسانو ته مالوم و.

د صدر پټې تېښتې د امریکا په تاریخ کې پر ټولو اوږدې جګړې(د افغانستان جګړې) ژور اغېز درلود.

د راتلونکو ۱۹ کلونو په اوږدو کې هغه له لومړنیو کسانو څخه و چې د ماتې ترخه مزه یې وڅکله څو طالبان له یوه دولت څخه د نړۍ په یوې تر ټولو اغېزناکې چریکې ډلې بدل کړي او دی هم پکې عمده رول ولوبوي. پر دې سربېره، ډېر کم افغانان یا امریکایان د ده د پټ کار پر رول او څرنګوالي خبر وو.

صدر د طالب جنګیالیو مشر دی او په ټول افغانستان کې د دوی مسوولیت پر غاړه لري. د هغه تر نظر لاندې طالبانو د هېواد په ګوټ ګوټ کې ځانمرګي بریدونه، د سړک د غاړې بمې چاودنې او په ښارونو کې ترور او وژنې ترسره کېدې.

له ۲۰۰۱ ز کال راپدېخوا په افغان جګړه کې له ۳۵۰۰ زیات امریکایي پوځیان او لسګونه زره ملکي افغانان وژل شوي دي، خو اوس امریکا پرېکړه کړې چې له طالبانو سره د فبروري میاشتې د هوکړې له مخې، له افغانستان څخه خپل پوځیان وباسي، مګر په دغه هېواد کې لاهم وینې بهېږي. د افغانستان د ملي امنیت شورا د راپور له مخې، یوازې د تېرې جون میاشتې په یوه اونۍ کې ۲۹۱ افغان پوځیان وژل شوي دي.

پر دې سربېره چې صدر پر دې بریالی شوی چې هم د ځان او هم د طالبانو لپاره په دومره لویه کچه کارونه وکړي، خو له دې سره سره خپل ځان په ډېره ټیټه کچه کې شمېري او دا د هغو کسانو لپاره چې نوموړی پېژني، د ډېرې حیرانتیا خبره نه ده. د هغه ملګري د نوم نه ښودو په شرط وایي چې هغه یو پیاوړی او با استعداده قوماندان او مشر دی چې له شهرت سره چندان علاقه نه لري. دوی وایي چې هغه د طالبانو د ۱۹۹۰ ز کال د اسلامي قوانینو پلي کېدو ته ډېر وفادار دی.

لسیزې وخت یې ونیو چې صدر د جګړې په ډګر کې داسې وځلېږي. هغه په ۱۹۶۰ ز کال کې د جنوبي ولایت هلمند په جغوران کې نړۍ ته سترګې پرانیستې. هغه د سنګین ولسوالۍ اوسېدونکی دی، چېرې چې د انارو ډېرې ونې دي او دغه راز په دې ولسوالۍ کې په لویه پیمانه تریاک هم کرل کېږي. دغه راز یاده ولسوالي د امریکا په مشرۍ د یرغل پر مهال د سختو نښتو او جګړو شاهده هم وه. صدر چې د پښتنو د یوې محترمې قبیلې (الکوزي) د یوې کورنۍ منځنۍ بچی و، په کور کې تر ډېره پر خدایداد مشهور و. وروسته له هغې چې د افغانستان کمونیستانو په ۱۹۷۸ ز کال کې د کودتاه له لارې واک ترلاسه کړ او شوروي ځواکونو هم یو کال وروسته پر دغه هېواد یرغل وکړ، دی او کورنۍ یې پر دې باوري شول چې باید له اسلامي مقاومت سره یوځای شي.

صدر له خپل پلار سره یوځای د جمعیت اسلامي په نوم له یوه ګوند سره چې د افغانستان له لویو ګوندونو څخه دی، یوځای شو او غړیتوب یې ترلاسه کړ. د سنګین یو اوسېدونکی چې له صدر سره یې اوږه پر اوږه د جګړې ډګر تود ساتلی و، وایي چې دا د نوموړي لپاره یو عملي انتخاب و. دغه کس چې اوسمهال ډېر مشر هم دی، وایي: «موږ پرېکړه وکړه چې له جمعیت سره یوځای شو، ځکه چې دوی موږ ته تر ټولو ښه خواړه او وسلې راکولې».

کله چې په ۱۹۹۲ ز کال کې په افغانستان کې کمونیستي رژیم نسکور شو، صدر د افغانستان په دننه کې له کورنۍ جګړې څخه چې د بریالي شویو مجاهدینو د ډلو ترمنځ ونښته، ډډه وکړه او له دې جګړې یې ځان لرې وساته او پرځای یې د زده کړو لپاره د پېښور یوې مدرسې ته ولاړ. په دې موده کې هغه خپل نوم ابراهیم ته چې یو پیغمبر و، بدل کړ. د نوموړي په ځان کې د رهبرۍ ځانګړو مهارتونو ته په کتو، ډېر ژر د هغو شاګردانو د درناوي په پار هغه ته د (صدر) چې په فارسي کې د (ولسمشر) مانا لري، لقب ورکړ. نوموړي هم دا لقب د خپل تخلص په توګه ومانه.

په ټول افغانستان کې د کورنیو جګړو له پیلېدو سره سم طالبان راپیدا شول او ژمنه یې وکړه چې په هېواد کې به نظم راولي او قانون به پلي کوي. صدر چې د طالبانو له ډېریو بنسټګرو سره یې له پخوا پېژندل، له لومړنیو کسانو څخه و چې د دوی بلنې ته یې لبیک وواییه او له دې ډلې سره یوځای شو. دا ډله په ۱۹۹۴ ز کال کې له جوړېدو وروسته لومړی په کندهار او هلمند او بیا له هغه ځایه د هېواد ګوټ ګوټ ته وغځېده.

یو پخوانی طالب جنګیالی چې اوسمهال په کندهار کې سوداګریز کارونه کوي او څو کاله له صدر سره پاتې شوی او هغه له نږدې ښه پېژني، وایي: «هغه مشرانو ته نږدې و، خو د هغوی پر وړاندې به تل چوپ و او ځان به یې داسې نه ښودو چې ګواکې قوماندان دې وي».

کله چې طالبان په ۱۹۹۶ ز کال کې واک ته ورسېدل، صدر د دوی په منځ کې د لا زیات محبوبیت څښتن شو، هغه د پلازمېنې د هوایي ډګر د رییس او تر دې هم مهم، د کابل د هوایي ځواکونو قوماندان وټاکل شو.

د نورو طالب مشرانو په څېر، صدر هغه مهال پر دې افتخار کاوه چې په منځنۍ‌کچه ژوند ولري، هغه د پرهېزګار او جنوبي سمت پښتون په څېر عادي کالي اغوستل، ان رسمي ځایونو ته به هم په همدې ډول جامو کې تللو، خو نوموړي په ځان کې د ننه د رهبرۍ ډېر مهارتونه او ځانګړې کاریزما درلوده او همدغه څه د نورو کسانو په منځ کې ډېر محبوب کړی و.

صدر د کابل د هوایي ځواکونو د قوماندان په توګه د طالبانو د رژیم د داخلي مخالفینو پر وړاندې کوچنی، خو ډېر مهم رول ولوباوه.

د هغو پیلوټانو به پر شمالي ټلوالې، د مجاهدینو پر پخواني ائتلاف، پخوانیو کمونیستانو او جنګسالارانو بمبارۍ کولې چې وروسته دغو ډلو بیا پر افغانستان د امریکا له برید سره ډېره مرسته وکړه. نوموړي نور هم پرمختګ وکړ، خپلې اړیکې یې پراخې کړې چې په راتلونکو لسیزو کې یې له هغه سره ډېره مرسته وکړه.

په ځانګړې توګه صدر د طالبانو له راتلونکي مشر ملا اختر محمد منصور سره چې هغه مهال د ملکي هوایي چلند وزیر و، خپلې اړیکې ډېرې نږدې کړې. یوې سرچینې ایشیا ټایمز ته وویل چې نوموړي په کابل کې د بهرنیو جنګیالیو او جهادي ډلو پر ځای پر ځای کولو سره چې د القاعده شبکې غړي هم پکې وو، له ډېرو بهرنیو ډلو سره اړیکې جوړې کړې.

کله چې متحده ایالتونو د ۲۰۰۱ ز کال په اکتوبر کې پر افغانستان برید وکړ، صدر د کابل په شمال کې په جبهه کې ځای پر ځای شو او د څو عرب جنګیالیو په مرسته یې عملیات تر سره کول، خو نوموړي ونه شو کولی چې خپله سیمه وساتي او د کابل په جنوب کې یې یوې نظامي اډې ته شاتګ وکړ. حاجي سید چې د هغه نږدې ملګری پاتې شوی او د خپل هویت د خوندیتوب لپاره یې دغه نوم ځان ته غوره کړی، وایي: «په هغې ورځ ما بل هېڅوک ونه لیدل چې د جګړې رهبري پر غاړه واخلي، هغه د جګړې دروند پېټی پر اوږه اخیستی و».

سید په وروستیو کلونو کې د صدر له ځای او کارونو ډېر مالومات نه لري، ویل کېږي چې نوموړی په ۲۰۱۴ ز کال کې وروسته له هغې چې د طالبانو مشر ملامحمد عمر مړ شو، د طالبانو د نظامي کمېسیون مشر وټاکل شو.

صدر وروسته له هغې دا ارتقا وکړه، کله چې د ملا عمر له مړینې وروسته د نوموړي پخوانی ملګری او د ملکي هوایي چلند اداري مشر ملا منصور د طالبانو د نوي مشر په توګه وټاکل شو. منصور د ۲۰۱۶ ز کال د مې په ۲۱ مه په پاکستان کې د امریکایي بې پیلوټه الوتکې په برید کې ووژل شو، خو صدر هغه مهال ثابته کړې وه چې له دې هم ډېره وړتیا لري.

یو پخوانی طالب چې اوسمهال په کندهار کې سوداګریز کارونه پر مخ وړي، ادعا کوي: «صدر ټول بهرني جنګیالي او د تریاکو تجارت کنټرولاوه».

د روان کال په بهیر کې داسې ګنګوسې وې چې صدر د ملا عمر د یوه زوی چې د طالبانو مهم مشر دی، پرځای ټاکل کېږي څو د طالبانو خپلمنځي اختلافات پای ته ورسېږي. پر دې سربېره، د ایشیا ټایمز سرچینې وایي چې هغه که هرې برخې ته بدل شي، ښه پرېکړه او پرځای ګومارنه به وي. صدر دغه راز د دې ډلې د نظامي چارو مسوولیت هم پرغاړه لري.

د ملګرو ملتونو د امنیت شورا وروستی راپور چې پکې ویل شوي صدر د طالبانو د نظامي کمېسیون د مشر په توګه ټاکل شوی، هم تایید شوی دی. د ملګرو ملتونو د راپور پر اساس، صدر ان په ۲۰۱۹ ز کال کې د اسامه بن لادن له زوی حمزه سره په سنګین کې له نږدې کتلي دي. په راپور کې راغلي: «هغه حمزه ته ډاډ ورکړی چې اسلامي امارت به له القاعده شبکې سره خپلې تاریخي اړیکې په هر ډول ساتي او په هېڅ قیمت به یې نه پرې کوي».

له دې لیدنې څو میاشتې وروسته د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ اعلان وکړ چې حمزه بن لادن د امریکا د پوځ په یوه برید کې وژل شوی دی، خو نوموړي د دغه برید ځای او وخت په ډاګه نه کړ. په همدې حال کې صدر لاهم خپل چانس ته په هماغه ډول دوام ورکوي، لکه څرنګه یې چې په ۲۰۰۱ ز کال دوام ورکاوه، خو دا ځل متحده ایالتونه د ماتې په حال کې دي.

د امریکا او طالبانو ترمنځ د هغې هوکړې له مخې چې په تېره فبروري کې د دواړو لورو ترمنځ لاسلیک شوه، د امریکا د پوځ وروستی سرتېری به راتلونکی کال له افغانستانه وځي. په مقابل کې یې طالبانو ژمنه کړې چې له بهرنیو ترهګرو ډلو سره به خپلې اړیکې نه پالي، هغه ژمنه چې ډېره لرې ښکاري؛ ځکه چې د دې ډلې د نظامي برخې مشر او نورو قوماندانانو او جنګیالیو ته د منلو وړ نه ده.

اوسمهال طالبان باید پرېکړه وکړي چې ایا خپله جګړه پای ته رسوي او د افغانستان له دولت سره سوله کوي او یا هم که هڅه کوي چې د امریکایي ځواکونو له وتلو وروسته به د زور له لارې واک ترلاسه کوي. په دې چاره کې به د صدر نظر او رول ډېر مهم وي. کندهاری سوداګر او پخوانی طاب چارواکی وایي: «هغه ډېره پیاوړې اراده لري، د هغه هو، هو دي او نه یې نه دي!»

# له افغانستانه د هندوانو او سیکانو وتل؛ څوک خپه دي، څوک خوشحال؟

بي بي سي- پښتو

د روانه اونۍ یکشنبې پر ورځ د جولای میاشتې پر ۲٦مه د افغان سیکانو یوه ۱۱ کسیزه ډله هند کې د سیاسي پناه ترلاسه کولو وروسته له کابله نوي ډیلي ته ورسېدله.
دا هغه کسان وو چې د کورنۍ غړي یې پهکابل کې د سیکانو پر عبادتځي په وروستي برید کې وژل شوي وو. د نوي ډیلي په هوایي ډګر کې هندي چارواکو د دې کسانو تود هرکلی وکړ.
ګڼ شمېر افغانانو او هندي وګړو پر خواله رسنیو هند ته د دې کسانو تګ ته غبرګون ښودلی. هندیانو دوی ته هرکلی ویلی، خو ګڼ شمېر افغانانو بیا د دوی پر تګ خپګان ښکاره کړی.
د خواله رسنیو هندي کاروونکي استدلال کوي چې په افغانستان کې د دې وګړو ژوند په خطر کې و او ښه ده چې دوی له دې هېواده ووځي او نورو هېوادونو کې د ارام ساه واخلي او د عزت ژوند وکړي.
خو افغانانو بیا له خپل هېواده د دې وګړو پر تګ خپګان ښودلی، دا یې د ځان او افغان حکومت لپاره یو شرم بللی او هیله یې ښودلې چې یوه ورځ به دا «افغانان » وکړای شي چې بېرته خپل هېواد ته ستانه شي.
د افغان حکومت غبرګون څه دی؟
د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت بي بي سي ته ویلي، د هند حکومت د خپل پارلمان د پرېکړې پر اساس یو شمېر افغان سیک او هند وګړو ته د ځانګړو ویزو ورکولو پرېکړه کړې ده.
د بهرنیو چارو وزارت وايي، دا د هند د حکومت خپله کورنۍ موضوع ده او طبعاً چې په دې لړ کې له افغان حکومت سره کومه سلا مشوره نه ده شوې.
یاد وزارت همدا راز زیاتوي، د قانون له مخې هر افغان وګړی د ازاد سفر اجازه لري، او تر هغې چې محکمې یو څوک بهر ته له سفره نه وي منع کړی، افغان حکومت هېڅوک بل هېواد ته له تللو نشي راګرځولی.
بل لور ته طالبانو هم له افغاستانه د یو شمېر هندو او سیک وګړو پر وتلو خپګان ښودلی او وايي، دا ډله په افغانستان کې د ټولو وګړو امنیت ساتلو او حقونو ته ژمنه ده.
د دې ډلې ویاند ذبیح الله مجاهد وايي، په هغو سیمو کې چې د دوی تر کنټرول لاندې دي د اقلیتونو حقونه خوندي دي او په کابل کې د سیکانو پر عبادتځي برید د داعش ډلې کار و چې طالبان یې غندي.
مجاهد همدا راز ویلي، طالبانو په پکتیا کې د سیکانو د یوه مشر د تښتولو قضیه هم څارله او په دې لړ کې یې خپلې هلې ځلې وکړې.
دا کسان ولې اړ شول چې هند ته لاړ شي؟
د هغې ډلې سیکانو او هندوانو چې روانه اونۍ له کابله نوي ډیلي ته ورسېدل، ځینې د هغې پېښې د قربانیانو د کورنۍ غړي وو چې څو میاشتې وړاندې په کابل کې د سیکانو پر عبادتځی ( ګوردواره) برید کې ووژل شول.
د کابل ښار په شوربازار سیمه کې پر ګوردواره دا برید پر سیکانو وروستی او تر ټولو خونړی هغه و چې ۲٦ تنه پکې ووژل شول او اته تنه نور ټپیان شول.
دغه برید چې مسوولیت یې داعش ډلې منلی و، پراخ غبرګونونه پارولي وو او په لویه کچه وغندل شو.
اوس هند د خپل پارلمان د یوې تازه پرېکړې پر بنسټ غواړي چې هغو شاوخوا ۷۰۰ افغان سیکانو او هندوانو ته د اوږدې مودې ویزې ورکړي چې په افغانستان کې له ګڼو ستونزو سره لاس او ګریوان دي او غواړي هند ته ولاړ شي. د دوی لومړۍ ۱۱ کسیزه ډله روانه اونۍ هند ته ورسېدله. په دې ډله کې د هندوانو هغه مشر هم و چې څه موده وړاندې په پکتیا ولایت کې وسله والو تښتولی وو.
افغانانو پر خواله رسنیو څه ډول غبرګونونه ښودلي؟
قاضي محمد ناصري د افغان سیکانو او هندوانو تګ ته له سخت درېځۍ سره تړاو ورکړی او پر فېسبوک یې لیکلي، تر هغې چې افراطیت وي، هېڅوک به پاتې نه شي.
ممتاز شیرزي د دوی پر تګ خپګان ښودلی او وايي، دوی د افغانستان دي او حق یې دی چې افغانستان کې یې ځان، ناموس او مال خوندي وي. روان خوستی په دې نظر دی چې دوی د ځمکو د غاصبینو له لاسه اړ شول چې له افغانستانه ووځي.
حمیدالله امید بیا وايي، له افغانستانه د هندوانو او سیکانو په تګ سره د افغان ټولنې رنګ تت کېږي او هغه رنګارنګي او تنوع له لاسه ورکوي چې د دوی په شتون کې یې لري.
میر عثمان لیکلي، دوی نژدې دېرش کاله زور زیاتی وزغامه او په تګ یې له زړه خپه دی، دی وايي، له څېرو یې ښکاري چې وطن پسې خفه دي.
عبدالله یادګار پر ټویټر لیکلي چې له افغانستانه د هندوانو او سکانو د دې ډلې د وتلو شېبه ډېره سخته ده او کاشکې موږ دوی افغانستان کې پاتې کولی شوای. ثواب الدین مخکښ ویلي، زموږ له بدنه یوه بله ټوټه جلا شوه.
هغه پر ټویټر لیکلي، هغوی چې د ترهګرۍ ملاتړ کوي تل یېافغان سیک کورنۍ په نښه کړې او هند د ټولو افغانانو دویم کور دی.
د هندي وګړو او رسنیو غبرګونونه څه دي؟
ګیتا موهن پر ټویټر لیکلي چې افغان سیکان او هندوان د ترهګرو د بهرنیو ملاتړو په غوښتنه د ګواښ له امله افغانستان پرېږدي.
هارمیت دیلن د هند له حکومته مننه کړې او لیکي چې ډېره دردوونکې ده چې په افغانستان کې د څو نسله ژوند کولو وروسته افغان سیکان او هندوان له دغه هېواد د ترهګرو له لاسه وتلو ته اړ کېږي. هندي رسنیو له افغانستانه د سیکانو او هندوانو د لومړۍ وتلو ته پراخ خبري پوښښ ورکړی.
له دې ډلې هندوستان ټایمز ورځپاڼې لیکلي، د هند حکومت وروسته له هغې لاس پر کار شو او چټک ګامونه یې واخیستل چې په افغانستان کې د لږکیو د امنیت او د هغوی د بشري حقونو په اړه د ګواښونو په اړه خواشینوونکي رپوټونه ورکړل شول. افغان سیکانو او هندوانو په افغانستان کې د تېرو څو لسیز جګړو پرمهال ډېر کړاو ګاللی دی.
دوی ته وروسته له هغې درووند مالي زیان واوښت او د دوی د وینا له مخې، جایدادونه یې غصب شول کله چې په ۱۹۹۲ کال کې د پخواني ولسمشر نجیب الله واکمني پای ته ورسېده او د مجاهدینو ډلې حاکمې شوې.

# خوشالي خو لنډمهاله؛

## طالبانو او افغان حکومت د اختر په دريو ورځو کې اوربند اعلان کړی دی



طالبانو او افغان حکومت له خونړیو جګړو سره هممهاله، د اخترو په دریو ورځو کې اوربند اعلان کړی دی.
د وسله والو طالبانو مشر پر خپلو جنګیالیو امر کړی چې د اختر په دریو ورځو کې دې پر مقابل لوري هېڅ راز برید نه کوي، خو که پر دوی برید کېږي، باید ځواب یې ووایي. تر دې اعلان څو ساعته وروسته ارګ هم د دغه اوربند هرکلی کړی او پر افغان ځواکونو یې غږ کړی چې پر طالبانو دې بریدونه نه کوي.
د ملي مصالحې عالي شورا رییس هم د اوربند هرکلی کړی دی.
سره له دې چې په افغانستان کې د سولې هوکړې تر لاسلیک وروسته جګړې شدیدې شوې او د ملکي تلفاتو کچه لوړه شوې، تازه افغان حکومت او طالبانو د لوی اختر په دریو ورځو کې د اوربند اعلان کړی دی. دا اقدام داسې مهال دی چې په تېرو شپږو میاشتو کې څه کم ۳۵۰۰ ملکي وګړو ته د جګړو له امله مرګ ژوبله اوښتې ده. د ملګرو ملتونو مرستندویه دفتر یا یوناما پر طالبانو او افغان حکومت غږ کړی و چې له جګړو لاس واخلي او اوربند وکړي، ځکه د دې جګړې تر ټولو ستر زیان ملکي افغانانو ته اوړي.
د طالبانو مشرانو پر خپلو جنګیالیو غږ کړی چې د اختر په دریو ورځو کې دې پر مقابل لوري بریدونه نه کوي او تر څنګ یې وسله وال اجازه نه لري چې د افغان حکومت تر کنټرول لاندې سیمو ته لاړ شي. وسله والو طالبانو ویلي چې د افغان حکومت عسکرو ته هم اجازه نه ورکول کېږي چې د طالبانو سیمو ته لاړ شي. د وسله والو طالبانو له لوري په خپره شوې اعلامیه کې راغلي: ((دا چې هېوادوال خپل اختر په خوښۍ او ډاډ کې تېر کړي، نو پر دوی هېڅ ډول عملیات نه کېږي او که دوی پر طالبانو عملیات کوي، نو باید کلک ځواب ورکړل شي)).
تر دې اعلامیې څو ساعته وروسته د ولسمشر ویاند صدیق صدیقي هم د اوربند هرکلی وکړ او په خبره یې افغان حکومت هم د اختر په دریو ورځو کې اوربند اعلانوي او پر خپلو وسله والو غږ کوي چې پر طالبانو دې هېڅ ډول بریدونه او عملیات نه ترسره کوي. د صدیقي په خبره: ((د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د نېکمرغه لوی اختر په ورځو کې د طالبانو ډلې د درې ورځني اوربند د اعلان هرکلی کوي، د اوربند اعلان یو مهم ګام دی، اما د افغانستان خلک د افغانستان اسلامي جمهوري دولت او د طالبانو ډلې ترمنځ د دوامدار اوربند او د سولې مذاکراتو د پیلولو غوښتونکي دي)).
بلخوا تر دې وړاندې د وسله والو طالبانو مشر ملا هبت الله اخندزاده هم د اختر په مناسبت یو پیغام خپور کړی و. نوموړي ویلي وو چې د سولې په برخه کې دوی خپل مسوولیت ادا کړی، خو افغان حکومت په دې برخه کې خنډونه جوړوي. نوموړي د زندانیانو د خلاصون په اړه هم ویلي وو چې افغان حکومت باید پاتې زندانیان خوشي کړي او تر هغه وروسته دې بین الافغاني خبرو ته صادقانه ګامونه اوچت کړي.
تازه ولسمشر غني بیا ویلي چې په نږدې ورځو کې به د طالبانو ټول پنځه زره بندیان خوشي شي. ولسمشر غني پرون په یوه کنفرانس کې د خبرو پر مهال ویلي چې دوی سولې ته ژمن دي او غواړي چې دلته روانه جګړه ژر تر ژره د خبرو له لارې حل شي نو له همدې امله دې ته تیار دي چې د طالبانو ټول پنځه زره بندیان په نږدې ورځو کې خوشي کړي او دغه پروسه بشپړه کړي. افغان حکومت لا وار د مخه د خطرناکه بندیانو د خوشي کولو پروسه پیل کړې ده، چې په هغه کې یې تر دېرشو ډېر طالب بندیان خوشي کړي دي.
بلخوا د ملي مصالحې عالي شورا مشر هم د اوربند هرکلی کوي او له طالبانو غواړي چې ژر تر ژره دې په افغانستان کې د روانې جګړې د پای لپار کوټلي ګامونه اوچت کړي او د سولې له بهیر سره دې یو ځای شي. دده په خبره سوله د افغانانو ستر ارمان ده او که دواړه لوري ژر تر ژره بین الافغاني خبرې پیل کړي نو د ټولو افغانانو دا ارمان به ژر پوره شي او دلته به روانه خونړۍ جګړه نور د افغانانو ژوند نه ګواښي.

# د کرونا له چټکې پراختیا سره همهاله؛

## د امریکا کانګرېس د دې وبا له کبله له زیانمنو شویو امریکایانو سره یو ټریلیون ډالري مرسته تصویب کړه


په داسې حال کې چې کرونا ویروس لاهم په نړۍ کې په چټکۍ سره د پراختیا په حال کې دی، د امریکا سنا جرګې د دغه ویروس له کبله د یاد هېواد د ځپل شوي اقتصاد د رغونې لپاره پر یو ټریلیون ډالري مرستې هوکړې کړې ده.
خو ډیموکراټان وايي چې د مرستو دغه نوې بسته به ونشي کولای چې د هغو امریکایانو چې د کرونا وبا ډېر زیانمن کړي، ټولې ستونزې لرې کړي.
د امریکا د کانګرېس په سنا جرګه کې جمهوري غوښتونکو د یو ټریلیون ډالرو په اندازه د کرونا ویروس د مرستو یوه نوې بسته وړاندیز کړه.
د مرستو دغه نوې بسته به له امریکایانو سره چې د کرونا وبا له امله یې کارونه له لاسه ورکړي او هم له نورو برخو سره چې دغې وبا اغېزمن کړي، مرسته کوي. په سنا کې د اکثریت جمهوري غوښتونکو مشر میچ مک کانیل د مرستې وړاندې شوې بسته یو مناسب او په نښه شوی پلان وباله چې تمرکز به یې پر دې وي چې خلک بېرته کارونه پیل کړي او ښوونځي پرانیستل شي.
مک کانیل وویل: «یوه د کرونا وبا ده او بله رغونه چې دواړو ته باید پام وشي، خو امریکایان زیاتو مرستو ته اړتیا لري». د هغه په وینا، اوس چې امریکایان په سختو ستونزو کې راګیر دي، دې ته اړتیا ده چې دغه مرستې پراخې، مناسبې او هدف یې معلوم وي.
د کانګرېس غړي تر فشار لاندې دي چې د هغو میلیونونو امریکایانو اندېښنو ته باید ځواب ووایي چې د روانې جولای میاشتې په ۳۱ مه دې ته سترګې په لاره دي چې له فدرالي حکومت څخه د بېکارۍ نغدي اضافي مرسته ترلاسه کړي، خو دا له دولتي مرستې بېله ده چې دوی یې ترلاسه کوي. د دغه نوي پلان له مخې، به په نغدي مرستو کې د پام وړ کمی راشي، په دې معنا چې له شپږ سوو ډالرو څخه به چې اوس یې دوی په اونۍ کې ترلاسه کوي، هغه به دوو سوو ډالرو ته راکمه شي.
ډیموکراتانو سمدستي دغه پلان ډېر محدود وباله او هغه یې د بل درې ټریلیون ډالرو پلان په مقایسه چې د استازیو جرګې په مې میاشت کې وړاندې کړی او په سناجرګه کې جمهوري غوښتونکو سناتورانو پرې له غور کولو ډډه کړې وه، کمزوری وباله. د امریکا کانګرېس داسې مهال دغه پرېکړه کړې چې کرونا ویروس لاهم په نړۍ کې په چټکۍ سره پراختیا په حال کې دی. د تازه شمېرو له مخې، په ټوله نړۍ کې د کرونا مثبتې پېښې له ۱٦.۷٦ میلیونو اوښتې او دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې دمه ٦۵۹ زره او ۸٦۹ کسان مړه شوي او له لسو میلیونو ډېر ترې بېرته رغېدلي دي.

## د کتـــاب خبـرې

# د یوویشتمې پېړۍ تجارت

◎ لیکوال: رابرټ کیوساکي
◎ ژباړن: علي‌الله متوکل

**دريیمه برخه**
**ستاسو راتلونکی اوس پیلیږي!**
**نولسم څپرکی**




**۱۹. څه شي اړين دي؟**
د يوې بريالۍ شبکه يي بازارموندنې د تجارت لپاره څه شی اړين دي. راځئ لومړی به و گورو چې څه ته اړتيا ده.

**MBA او د تجارت کاري تجربې ته اړتیا نه لرئ**
د مخکينيو څپرکو د«څو برابره کولو» خبره در په ياد کړئ. په شبکه يي بازارموندنه کې هغه ستراتيژي تر ټولو غوره ده چې د څو برابره کېدو وړ وي. شبکه يي بازارموندنه له تجارانو سره هغه څه کوي چې هنري فورډ د موټرو له صنعت سره وکړل. ياني ستاسو د توليداتو د بهير په کرارولو تاسو ته د هغه د برخو د پراخ توليد چانس درکوي.
جان: د شبکه يي بازارموندنې تجارت د يوه مسلکي کس په لاس جوړ او بازار ته وړاندې شوي څه نه دي، بلکې دا يو ډله ييز ساده کار دی چې د سلگونو زره لاسونو په مرسته جوړ شوی دی.

**د غوره پلورنکي کېدو اړتیا نشته**
يو ځل بيا وايم، هغه خلک چې له شبکه يي بازارموندنې څخه بهر دي، د يوه ناسم پوهاوي او تېروتنې ښکار دي. دوی وايي، په شبکه يي بازارموندنه کې د بريالي کېدو لپاره بايد له ازله ښه پلورنکی واوسې.
دا بلکل غلط نظر دی. که رښتيا ووايم، د شبکه يي بازارموندنې په اړه داسې فکر لرل تاسو ته زيان لري. ولې؟ ځکه هغه کسان چې له ازله ښه پلورونکي وي، ياني د پلور له غوره مهارتونو سره نړۍ ته راغلي وي، هغوی ځان څو برابره نشي کولای.
جان: يوه يادونه کوم. د بازارموندنې شبکې په اصل کې د پلور تجارت نه دی، بلکې دا د ښوونې، ټيم جوړولو او مشرۍ تجارت دی. د ډېرو توليداتو پلورل ستاسو دنده نه ده او نورو خلکو ته د زياتو توليداتو پلور ور زده کول هم ستاسو دنده نه ده.
ستاسو دنده د خلکو مشري، روزنه او چمتو کول دي. دا د شبکه يي بازارموندنې لومړنی او اړين اصل دی.
رابرټ: د توکو پلور اړين نه دی، د شبکې جوړول اړين دي.
جان: بلکل همداسې ده.


**د دندې پرېښودو اړتیا نشته**
په حقيقت کې د شبکه يي بازارموندنې د پيلولو لپاره د دندې پرېښودو ته هېڅ اړتيا نشته.
دې خبرې ته مو پام وي چې خپل تجارت رامنځته کول د نوې دندې د پيلولو په څېر نه دی چې له لومړۍ ورځې تاسو ته مياشتنۍ تنخوا شروع شي. د تجارتي شبکې جوړول وخت غواړي، نو تاسو چې اوس کوم ځای په تنخوا دنده کوئ، هغه دنده مو مه پرېږدئ.
جان: دنده بايد يوازې د مالي دليلونو په خاطر ټينگه نه کړئ. ياني که څه هم له مالي اړخه د دندې پرېښودلو توان ولرئ، بيا مو هم دنده مه پرېږدئ. ځکه زيات نوي شبکه جوړوونکي د همکارانو د اړيکو له لارې شبکه جوړوي.
زيات شبکه يي بازارموندونکي دا تجارت په خپل اضافي وخت کې کوي. د Direct Sales Association د (۲۰۰۸م) يوه پلټنه ښيي چې د شبکه يي بازارموندنې په اتو کسانو کې يوازې يو کس په اونۍ کې شل ساعته يا تر دې يو څو ساعته زيات دې تجارت ته ورکړي وو.

**شتمنېدو او د کور په گروۍ ورکولو ته اړتیا نشته**
د بازارموندنې زياتې شبکې په پېل کې تر ۵۰۰ ډالرو زياتو پيسو ته اړتيا نه لري. تېروتنه مه کوئ. ستا سو اصلي سرمايه ستاسو سترېا، خولې ټويول او کاري استقامت دی. په شبکه يي بازارموندنه کې لويه پانگونه ستاسو خپل ځان لگول دي. د دې تجارت د پيلولو لپاره د پيسو بنډل ته اړتيا نشته، بلکې ستاسو وخت، تمرکز او ټينگار ته سخته اړتيا ده.
جان: که څه هم ستاسو سرمايه لږه ده؛ خو د نشت په مانا نه ده. دا په خپل ذات کې يو تجارت دی او د تجارت په توگه مخ ته بېولو ته يې اړ يئ، نو په همدې خاطر به مياشتني لگښتونه ولري.
مياشتني لگښتونه به مو کم وي. يوازې د توليداتو د نمونو د لېږد را لېږد، د اړيکو نيونې او د توکو ننداړې ته وړاندې کول (لکه ويبپاڼې، CD او نور) همدارنگه د تجارت د ودې او ځانې پرمختگ لپاره ځينو لگښتونو ته اړتيا ده. نو تاسو د تجارت د پيل لپاره زياتو پيسو ته اړتيا نه لرئ؛ خو د مياشتنيو کوچنيو لگښتونو لپاره يوې مناسبې بودجې ته اړتيا لرئ.

**د خبرو نابغه‌توب او په حسابونو کې تکړه‌توب ته اړتیا نشته**
تاسو ډېرې لېوالتيا ته چې له ټينگ عزم څخه سرچينه اخلي، اړتيا لرئ. زما ملگری ډونالډ ټرمپ وايي:((له خپل کار سره مينه ولرئ. له زياتې مينې او لېوالتيا پرته لويه سخته ده. د يوه متشبث په توگه، که له پوره زغم او قوت څخه برخمن نه وئ، نو له سختو حالاتو سره مخامخ کېدای شئ.)) په پورته څو کرښو کې هغه شيان بيان شول چې د شبکه يي بازارموندنې په يوه بريالي تجارت کې چندان اړين نه وو. اوس به پر هغو شيانو بحث وکړو چې د دې تجارت د بريا لپاره خورا اړين دي:
**دوام لري...**

# د انسان کیسه

اکسوس کتابپلورنځی




د انسان کیسه؛ خو له جالبو تاریخي پېښو او روایتونو سره. دا کتاب د ستر لیکوال (هنډرک وان لون) د څېړنې ټولگه ده. جالب او په زړه پورې دی، نوې خبرې راته کوي، د انسان او د انسان د پوهې، ذکاوت، لاسته راوړنو او ادراک تاریخي مزل راته بیانوي.
د انسان د پرمختگ هر گام د هغه په تېر پورې تړلی دی، راتلونکی یې بیا هغه وخت ښه او سم وي چې لویې موخې ولري او دې موخو ته رسېدل د خپل شالید له سنجش پرته ناشوني یا ناسم دي.
د نړۍ اکثره مختنه تللي ملتونه ځکه مختنه تللي دي، چې پر خپلو شاتنیو گامونو یې نظر اچولی دی. دا شاتني گامونه زموږ تاریخ دی. تاریخ لوستنه او ورته پام ځکه مهم او اړین دي چې له بیا ځلې تېروتنو او بیا ځلې تجربو مو ژغوري او له خپلې ماضي د راښه راتلونکي درس راکوي.
د بیا ځلې تجربو خبره مو ځکه وکړه چې هرڅه تجربه کول هم د ناکامو او له تاریخه د ناخبرو ملتونو خاصه ده. موږ که د خپلو نیکونو او جدنو تاریخ ته ځیر شو، ډېر داسې څه شته چې دوی یوځل تجربه کړي، موږ ته یې د بیا تجربې اړتیا نشته او تېروتنې یې هم د بیا نه تکرار درس راکوي.
دا کتاب حالب دی، د نړۍ تاریخ راته وایي او په دې گرده نړۍ کې د یوه فکري او عاقل حیوان (انسان) کیسه راته کوي.
انسان څوک و؟ له کومه راغی؟ په لومړیو کې یې هستوگنه، کړه وړه او چال چلن څه و؟ او ...
د دې کتاب لیکوال د انسان اړوند ډېرې جالبې او نوې خبرې کړې دي، نوموړی د نړۍ په گوټ گوټ کې پر بېلابېلو دینونو هم ښه مناسب او ښکلې غږېدلی دی.
د دې کتاب لوستل د پښتون ټبر لپاره ځکه مهم دي، چې نړیواله مفکوره ورکوي او د انسان اړوند له یوې بلې او نوې زاویې خبرې لري، باید چې موږ داسې اثار ولولو څو د انسان د مسوولیت په رښتیني مانا پوه شو او ځان هغسې وپېژنو په کومه مانا چې موږ دې نړۍ ته راغلي یو.
دا کتاب تکړه ژباړن اسد فروتن پښتو کړی، چې همدا پښتو بڼه یې په ۵۳۲ مخونو کې راټوله شوې ده.
مینه وال کولای شي یاد کتاب پر اکسوس سربېره، د ښار په لویو کتابپلورنځیو کې هم په مناسب قیمت تر لاسه کړي.

| روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه | | | |
|---|---|---|---|
| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
| ۱ | ۸۸ ورځې تر کندهاره | رابرټ ایل گرینیر/بسم الله پښتون مل | ۳۰۰ ؋ |
| ۲ | مبانی و اصول مدیریت | عبداللطیف رحمانی | ۲۵۰ ؋ |
| ۳ | مدیریت منابع بشری | عبداللطیف رحمانی، حشمت الله ناصری | ۲۵۰ ؋ |
| ٤ | ولې بخښنه؟! | جان کریستوف ارنولډ/بسم الله پښتون | ۱۲۰ ؋ |
| ۵ | اروايي فشار او ژور خپگان | حمید رضا اشرفي/جاوید آفتاب | ۸۰ ؋ |
| ٦ | گام پر گام تر بریالیتوبه | پیټر هولینز/بسم الله پښتون مل | ۷۰ ؋ |
| ۷ | شیندلې پاڼې(ادبي ټوټې) | اوښـــــکه امېل | ۵۰ ؋ |
| ۸ | عمومي معلومات(دوه ټوکه) | یورگ پیلاوه /اناهیتا روهي | ۲۲۰ ؋ |
| ۹ | آب حیات | احمد فهیم معرفت ویسی شمسی محمدی | ۷۰ ؋ |
| ۱۰ | فردي او عمومي ارتباطات | روی ایم ببرکو، ډي ار ولوین،<br>اې ډي ولوین/امیر احمد یاد | ۳۵۰ ؋ |
| ۱۱ | د بهرني سیاست پالیسي او ماهیت | جېمزباربر، مایکل سمیت/لعل اقا شیرین | ۳۷۰ ؋ |
| ۱۲ | نسخه لیکنه | وحیدالله نوري | ۷۰ ؋ |
| ۱۳ | کلینیکي فارمکالوژي | وحیدالله نوري | ۱٦۰ ؋ |
| ۱٤ | اور په افغانستان کې | ریه تالي ستیوارت /عبدالحسیب حکیمي | ۳۰۰ ؋ |
| ۱۵ | د اور په لېکه | پرویز مشرف/عبدالمالک دادووال | ۲۵۰ ؋ |
| ۱٦ | در خط آتش | پرویز مشرف/سید هارون یونسی | ۲۵۰ ؋ |
| ۱۷ | د پښتو کلي(گرامر) | صدیق الله ریښتین | ۱۳۰ ؋ |
| ۱۸ | سیستم های حقوقی معاصر جهان | نصرالله ستانکزی | ۲۵۰ ؋ |
| ۱۹ | د ولتیر ژوند، آند او فلسفه | قاضي جاوید | ۱۵۰ ؋ |
| ۲۰ | حقوق اساسی و موسسات سیاسی | محمد طاهر هاشمی | ۱۸۰ ؋ |
| ۲۱ | د وخت لنډکی تاریخ | ستیفن هاوکینگ/عدنان نجیبي | ۱۸۰ ؋ |
| ۲۲ | کرکټ د بیټ او بال لوبه | پلوشه عمري | ۸۰ ؋ |
| ۲۳ | د نړیوالو اړیکو تاریخ | موریس واېس/خالد سنگر | ۲۸۰ ؋ |
| ۲٤ | ۳۳۳۳د مدیریتي پوښتنو بانک | ذاهد الله احمد | ۳۲۰ ؋ |
| ۲۵ | توطئه نړیوال سیاست څوک مخ ته بیايي؟ | نیکولای سنچنکو ایوانویچ/نورالحق نبی زاده | ۳۵۰ ؋ |
| ۲٦ | اتاقی که در آن اتفاق افتاد | جان بولتون /میرمحمود مهاجر | ٦۰۰ ؋ |
| ۲۷ | د لیکوالۍ اصول | گل رحمن رحماني | ۲۰۰ ؋ |
| ۲۸ | دانش و دین داری | یوسف قرضاوی/عبدالعزیز سلیمی | ۲۵۰ ؋ |
| ۲۹ | اخوان المسلیمن<br>(هفتاد سال دعوت، تربیت و جهاد) | یوسف قرضاوی/عبدالعزیز سلیمی | ۳۵۰ ؋ |
| ۳۰ | د انسان کیسه | هنډرک وان لون /اسد فروتن | ۳۸۰ ؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

همیانی

# د خپگان احساس او د بې سببه زړه تنگون لاملونه

مهر تاج

داسې هېڅ زړه تنگون یا خپگان نشته، چې علت او سبب ونه لري؛ دا انسان دی چې د اظهارولو/ ښکاره کولو جرئت یې نه لري.
کله چې د درد څپه پرې زور شي بیا ووایي، هسې چټي پټي مې زړه خپه دی، هېڅ بې هېڅه مې زړه تنگ دی.
ـ نه، دوی هسې چټي پټي دروغ وایي!
دا یو روحي یا رواني تکلیف دی، چې موږ ټول ورسره مخ او پرې اخته یو.
هغه کوم لاملونه دي چې انسان پر یاده ناروغۍ اخته کوي!؟
احساس دی.
ـ احساس لکه د هوا څپه داسې ده، چې درباندې راغله باید هماغه وخت یې تنفس، تېر او بېرته خارج کړې، که گوگل کې پرېښودل شي اظهار او څرگند نشي، له اړوند شخص سره شریک نشي، د زړه تنگۍ او ډیپریس(ژور خپگان) سبب گرځي.
ځیرک اشخاص د خپل زړه تنگون یا خپگان په علت ښه پوهېږي او ځینې چې قصدي نه غواړي ځان پوه کړي یا هم هیرجن وي. وجه یې دا ده:
د بېلگې په ډول، یو څوک له یو داسې څه نه رنځېږي چې له وسې یې پورته وي، ورته ځورېږي.
یو څوک له چا/څه کرکه/ نفرت لري، مگر ښکاره کولای یې نشي، څومره چې پرې وخت تېرېږي هماغومره زیاتېږي.
یو څوک له چا / څه سره مینه/ هیله لري؛ لاسته یې راوړلای یې نشي، احساسات یې ورځ تر بلې لوړېږي او ذهن یې گډوډېږي، روحاً یو ځای او فکراً بل ځای وي یا په بل عبارت، جسماً دلته او فکراً بل ځای وي.
دغه شان نور ټول هغه عوامل چې د انسان د وجود مرکز یانې زړه پورې مربوط وي، احساس او عواطف؛ که په خپل ځای، وخت او زمان، اړوند شخص ته اظهار نشي په زړه کې ډب کېږي او د وخت په تېرېدو د درون دنیا پرې تنگه شي او د بهر وتلو لارې پلټي، که انسان پرې حاکم او لارې یې بندې کړای شي، د وخت په تېرېدو یې انسان هېروي، خو دا چې زړه کې په زوره دفن شوي وي؛ ناڅاپي او بې خبره چاودنه کوي، چې دا چاودنه یا د خپگان وربځ په انسان خپره او یا هم د زړه تنگون څپه په زړه خپروي او په ظاهر یې اثرات څرگند شي، چې علت او سبب بیا ترې هېر وي.
همدا راز ځینې اشخاص بیا یاد تکلیف برعکس لري، بې علته او بې سببه یې زړه خوشاله وي، غواړي په زوره زوره وخاندي، له ژوند او طبیعت خوند واخلي، ټوکې وکړي، شوخې وکړي یا...
دوی هغه احساسات چې په خپل درون کې دفن کړي وي او کله ناڅاپه ورته ورسېږي، هیلې یې پوره شي بیا له یاد حالت سره مخ کېږي، مست وي.
لوی لامل او اساسي وجه یې دا ده چې؛ موږ هغه څه چې کول او ویل غواړو، د «خلک به څه وایي او خلک به څه فکر کوي له وجهې» نه یې د ویلو جرئت لرو او نه هم د کولو، برعکس تمثیلي ژوند کوو، هغه څه وایو چې هغسې نه غواړو او هغه څه کوو، چې موږ یې کول نه غواړو، نه پرې خوشالېږو یوازې د نورو خلکو د خوشالولو لپاره یې کوو.
له عنوانه به سره لرې نه ځو، د زړه تنگون او خپگان د مخنیوي علاج:
ـ مه د خپلې ژړا مخه نیسئ، مه د خندا. که زړه مو ډک و، ماتې سره مخ شوي وی، درد درته رسېدلی وي، گیلې لری، نو داسې ارام او تنها ځای ته لاړ شئ چې هلته راحت خپلې د زړه خبرې په زوره زوره وکړ ای شي، په چیغو چیغو وژړلای شی.
که له چا کرکه، کینه، نفرت یا گیلې لری، ولې یې لری؟
له ځانه یوه پوښتنه وکړئ: «ولې؟»
د همدې ولې د ځواب لپاره یاد شخص ته ورشئ، ورسره کېنئ او خبرې وکړئ، په خبرو کې ورته د زړه خبره وکړئ، د یو ساعت خبرو وروسته به د ولې ځواب پیدا او د یاد شخص په هکله به مو فکر تغییر شي، دا ځکه؛
موږ تل زړه ته هغه څه اچوو چې په شکونو بنا وي، زموږ گومان وي، شک او گومان په خبرو او یو ځای کېناستلو سره له منځه ځي.
که له چا سره مینه لری، د اظهار له پایلو وېرېږی چې پایله به یې د جدي برخورد یا جدي عکس العمل، منفي ځواب سره مخ شي، له دغې وېرې ځور په غاړه گرځوی، نو د همدې "ځور امېل" نه د خلاصون لپاره ورسره مخامخ شئ، هر څه ورته ووایست، پایله یې چې هر څه وي، حداقل د درون له عذاب او ځور نه به ازاد وی!
د "ای کاش" له سندرې ویلو خلاصېږی چې کاش یو ځل مې خپل چانس/ بخت آزمایلی وای، کاش چوپ پاتې شوی نه وی، کاش داسې مې کړي وی، کاش داسې مې ویلي وی.
دغه "کاش" پخپله د ډیپرېشن لوی علت دی، له دې خپلواکي واخلئ!
دغه راز که په کاروبار کې مو تاوان کړی وي، چاته مو زیان / ضرر رسولی وي، ناکامه شوي وی، ظلم مو کړی وي، د وجدان پر عذاب باندې اخته وی، د عاطفې زور وي؛ نو ضروري او حتمي ده چې داسې دوست، همراز او باوري شخص ولری چې هغه درته غوږ کېږدي/ وخت درکولای شي او تاسو ورسره د درون ټولې کیسې او احساسات بې تکلفه شریکولای شی !
څومره چې زیات ورسره وغږېږی، هماغومره به مو د زړه بوج، خپگان کم او زړه تنگون به مو له منځه ځي.
وروسته له خبرو کولو به مو زړه هسې چټي پټي خوشاله وي، ټوکې ټکالې، مسکا، په کړس کړس خندا به مو زړه غواړي. (هغه چې د زړه له خلاصه او په زوره زوره خاندي د دوی دا هنر زده وي، چې څرنگه د درون غم پرې کم او خارج کړي.)
«ژوند به درته ښکلی وي»
مه هېروئ چې د ډیپریشن یا ژور خپگان او زړه تنگون یوازینی علاج احساسات څرگندول او له باوري شخص سره پرې خبرې کول دي!!!
خلاصه:ووایه! هغه ټول څه ویل او اظهارول زده کړه چې زړه دې غواړي او وکړه هغه څه چې کول یې غواړې، ډېر نزاکتونه هم مه پالئ.
او د دې لپاره ځان د شک او بې باورۍ له گرداب څخه ویستل غواړي.

## د بشري حقونو کمېسیون: د تاوتریخوالي په تړاو د یوناما وروستی راپور د اندېښنې وړ دی

په افغانستان کې د ملکي وگړو د مرگ‌ژوبلې په اړه د یوناما وروستي راپور د بشر حقونو خپلواک کمېسیون او د ناټو د غوڅ ملاتړ ماموریت اندېښنې راپارولې دي.
د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون او د ناټو د غوڅ ملاتړ ماموریت په دې هېواد کې د بېړني اوربند او د سولې خبرو د پیلېدو غوښتنه کړې ده.
د بشري حقونو خپلواک کمېسیون مشرې شهرزاد اکبر د ملکي وگړو د مرگ‌ژوبلې په اړه د یوناما نوي راپور ته په اشارې،ویلي چې دا ډول قربانۍ د منلو وړ نه دي.
دا په داسې حال کې ده چې په دغه راپور کې افغانستان د نړۍ په سطحه د ملکي وگړو لپاره تر ټولو ناامن هېواد بلل شوی دی.
اکبرازادي راډیو ته ویلي چې دوی د جگړې له ټولو اړخونو څخه د سمدستي اوربند او د سولې خبرو د پیل غوښتنه لري.
هغې زیاته کړې: «په تېرو شپږو میاشتو کې د ملکي تلفاتو لوړه شمېره، په هېڅ صورت د منلو نه‌ده. د افغانستان د بشر حقونو خپلواک کمېسیون په وار وار د تاوتریخوالي د کمېدو، د اوربند او د سولې خبرو د پیل غوښتنه کړې ده. د دې لپاره چې د ملکي وگړو د مرگ‌ژوبلې مخه ونیول شي او په مجموع کې بشري حقونو ته د خلکو د لاسرسي امکان برابر شي.»




په افغانستان کې د ملگرو ملتونو مرستندویه دفتر یا یوناما د دوشنبې په ورځ په یوه نوي راپور کې ویلي چې د روان کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ۱،۲۸۲ ملکي وگړي په افغانستان کې وژل شوي دي.
دغه شمېرې د تېر میلادي کال په ورته موده کې په ملکي مرگ‌ژوبله کې ۱۳ سلنه کموالی ښیي، خو د یوناما په راپور کې راغلي چې د دغه کموالي اصلي علت د نړیوالو ځواکونو د عملیاتو کموالی دی، نه د دولتي ځواکونو او طالبانو ترمنځ د جگړو کموالی.
په ورته وخت کې په افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو عمومي قوماندان سکاټ مېلر هم په یوه ټویټ پیغام کې ویلي چې په افغانستان کې باید روان تاوتریخوالی راکم شي.
مېلر ویلي: «تاوتریخوالی ډېر لوړ دی. د یوناما راپور د ملکي تلفاتو په اړه جزییات ورکړي دي. موږ ټول پوهېږو چې د تاوتریخوالي له ډېرېدو سره، ملکي وگړي ډېره بیه پرې کوي. بناً تاوتریخوالی باید کم شي څو فرصت ولرو د سولې پر لور حرکت وکړو.»

## ولسمشر غني: حکومت به ډېر ژر د پنځو زرو طالب زندانیانو د خوشې کېدو پروسه بشپړه کړي

ولسمشر غني وایي، افغان حکومت به ډېر ژر د پنځو زرو طالب زندانیانو د خوشې کېدو پروسه بشپړه کړي.
نوموړي پرون په کابل کې د (سام) په نامه د لوړپوړي پلاوي څلور اړخیزې ناستې ته په خبرو کې ویلي، افغان دولت له طالبانو غواړي چې د دغه کار په بدل کې باید د یوې اونۍ په اوږدو کې بین الافغاني مذاکراتو ته ځان چمتو کړي. هغه د خپلو خبرو پر دوام ویلي، ۲۰۲۰ ز کال د سولې په نیت پیل شو، خو طالبانو خپل بریدونه لا پسې ډېر کړل. نوموړي له طالبانو د اوربند غوښتنه کړې او زیاته کړې یې ده چې د لوی اختر ورځې د دې کار لپاره غوره فرصت دی.
هغه زیاته کړې چې بندیانو له خوشې کېدو سره به په یوه اونۍ کې د افغانانو خپلمنځي مذاکرې پیل شي.
غني وویل، افغانان سوله او پخلاینه غواړي، خو په خبره یې، طالبانو د افغانانو او حکومت په وړاندې جگړې ته دوام ورکړی او داسې شواهد نه شته چې وښیي دغې ډلې له القاعده شبکې سره خپلې اړیکې پرې کړې دي.



چارواکي وايي، حکومت تر اوسه شااوخوا ۴،۴۰۰ طالب بندیان خوشې کړي او طالبانو هم له خپله اړخه ۸٦۱ بندیان خوشې کړي دي، خو حکومت تر دې وړاندې د څه کم ٦۰۰ طالب بندیانو له خوشې کېدو سره مخالفت ښودلی و، خو اوس داسې ښکاري چې حکومت خپله پرېکړه بدله کړې ده او تر دې دمه د یادو بندیانو له ډلې یې لسگونه تنه خوشې کړي دي.
دا په داسې حال کې ده چې د بندیانو په تبادله کې اختلافات د افغانانو د خپلمنځي مذاکرو د ځنډ سبب شوي دي.
د ولسمشر په وینا، له کله چې په فبرورۍ میاشت کې د امریکا او طالبانو ترمنځ موافقه لاسلیک شوې تر اوسه تر ۳،۷۰۰ زیات افغان پوځیان په بېلابېلو حملو کې وژل شوي دي.
په کابل کې د سام غونډه په داسې حال کې د افغانستان په سوله کې پر سیمه‌ییزه او نړیواله اجماع ټینگار کوي چې د طالبانو مشر هبت‌الله اخندزاده په خپل اختري پیغام کې حکومت د سولې په خبرو کې په ځنډ تورن کړی دی.

اقتصاد

## د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ٧٦,٦٠ |
| € | ٨٧,٧٠ |
| Rp. | ٤٥٧ |
| ₹ | ١٠٨٠ |
| ¥ | ١٠,٦٠ |
| £ | ٩٥,٥٠ |

## بیړني شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپانه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer Daily
New Vision, New Journey

چهارشنبه د ۱۳۹۹ د زمري اتمه | د ۲۰۲۰ د جولای ۲۹مه | ۵۷٦یمه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

غوره کیفیت او چټک خدمات په وایگل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۵ | ۳۷ | ۳٦ | ۳۷ | ۳۷ | ۳۲ |
| ۲۲ | ۲۱ | ۲۰ | ۱۹ | ۲۲ | ۲۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۳٦ | لمر ختل ۰۵:۰۲ | ماسپښین ۱۲:۰۱ | مازیگر ۰۳:٤٦ | ماښام ۰٦:۵۸ | ماخوستن ۰۸:۳٦

## نړۍ




د کرونا له چټکې پراختیا سره هممهاله؛

# د امریکا کانگرېس د دې وبا له کبله له زیانمنو شویو امریکایانو سره یو ټریلیون ډالري مرسته تصویب کړه

۳

## راپورونه: په عراق کې په تازه پیل شویو لاریونونو کې ۲۳ کسانو ته مرگ ژوبله اوښتې ده



د راپورونو له مخې، چې په عراق کې د لاریونوالو او امنیتي ځواکونو ترمنځ په تازه اخ وډب کې د حکومت دوه مخالف اعتراض کوونکي په بغداد کې وژل شوي او ۲۱ نور ټپیان شوي دي.

دا په داسې حال کې ده چې په بغداد او نور عراق کې تېر کال په اکتوبر میاشت کې د حکومت د نه مشروعیت او بې کفایتۍ له امله لاریونونه وشول چې نږدې شپږ سوه اعتراض کوونکي پکې ووژل شول او دا لاریونونه د کرونا ویروس له خپرېدو سره سم درېدلي وو چې اوس بېرته پیل شوي دي.

دغه لاریونونه روانه اونۍ په بغداد او ځینو سویلي ښارونو کې چې د تودوخې درجه پکې تر پنځوس درجې سانتي گراده توده شوې، د برېښنا د پرچاوۍ او په دغه سکتور کې د ستونزو له کبله پیل شوي دي.

په ورته وخت کې د بشري حقونو د نیمه خپلواک کمېسیون ویاند علي البیاتي ویلي، چې د پولیسو او لاریونوالو ترمنځ په تازه نښتو کې دوه تنه وژل شوي او لسگونه نور ټپیان دي.

بلخوا د عراق لومړي وزیر مصطفی الکاظمي ویلي چې خلک د لاریونونو حق لري او امنیتي ځواکونه پرې د یوې مرمۍ د فیر کولو حق هم نه لري. کاظمي زیاته کړې چې د دې پېښې د څېړلو امر یې ورکړی او ژر به یې پایله په ډاگه شي.

## راپورونه: د استرالیا په ځنگلونو کې د اورلگېدنې له کبله نږدې درې میلیارده ژوي مړه شوي دي

د راپورونو له مخې، په استرالیا کې د ۲۰۱۹ او ۲۰۲۰ میلادي کلونو پر مهال د ځنگلونو اورلگېدنې د نږدې درې میلیارد ژویو د مړه کېدو یا هم بې ځایه کېدو سبب شوي دي.

د هغه راپور له مخې، چې پرون خپور شوی، دا په معاصر تاریخ کې د ځنگلونو تر ټولو سختې اورلگېدنې بلل شوې دي.

د استرالیا د څو پوهنتونونو په څېړنه کې ویل شوي، دغو اورلگېدنو ۱۴۳ میلیون تي لرونکي ژوي، دوه اعشاریه ۴٦ میلیارده خزندې، ۱۸۰ میلیونه مارغان او ۵۱ میلیون چونگښې اغېزمن کړي دي.

په دغه راپور کې نه دي ویل شوي، چې دا ستونزه د څو ژویو د مړه کېدو سبب شوې ده، خو د راپور یوه لیکوال کریس دیکمن وایي، هغه ژوي چې د اورلگېدو له کبله نورو ځایونو ته بې ځایه شوي، د خوړو، سرپناه او له ښکاریانو د خوندیتوب له کبله په ښه حالت کې نه ښکاري.

دا په داسې حال کې ده چې په تېرو دوو کلونو کې د استرالیا په ځنگلونو کې پراخې اورلگېدنې د نړۍ اقلیم هم له گواښ سره مخ کړی دی. دغه اورلگېدنه په چټکۍ سره د پراختیا په حال کې وه چې د حکومت له کنټرول هم وتلې وه.

## اداره امور: اگر اراکین بلند پایهٔ حکومت دارایی شان ثبت نه کنند، نام های شان افشا می شود



حکومت افغانستان هشدار داده است، که اگر اراکین بلند پایهٔ حکومت و وکلای شورای ملی دارایی شان ثبت نه کنند، نام های شان افشا می شود.

درخبر نامه ای مطبوعاتی اداره امور آمده است، به تاسی از فیصله کابینه جمهوری اسلامی افغانستان، تمام اراکین بلند رتبهٔ حکومت به شمول وکلای شورای ملی مکلف به ثبت دارایی های شان الی تاریخ ششم اسد سال جاری، در ریاست ثبت دارایی های ریاست عمومی اداره امور ریاست جمهوری گردیده بودند.


منبع افزوده است، اما معیاد معین شده از سوی کابینه جمهوری اسلامی افغانستان در رابطه به ثبت دارایی ها، از سوی تعداد کثیری از اراکین حکومت جدی گرفته نشده است و تا اکنون به ثبت دارایی های شان در ریاست ثبت دارایی های ریاست عمومی اداره امور نپرداخته اند.

در خبرنامه آمده است، به این منظور، ریاست عمومی اداره امور ریاست جمهوری برای آنعده از اراکین حکومتی که دارایی های شان را ثبت نکرده اند، اذعان می دارد که الی روز دوشنبه ۱۳ اسد سال روان دارای های شان را در ریاست ثبت دارایی های ریاست عمومی اداره امور به ثبت برسانند.

منبع گفته است، ریاست عمومی اداره امور ریاست جمهوری مصمم است تا پس از ختم این معیاد ذکره شده، اسامی تمام اراکین حکومتی را که دارایی های شان ثبت نگردیده است، به نشر بسپارد.

## ژونـــد

### د شتمنېدو لپاره پر چانس تکیه مه کوئ



د دې لپاره چې شتمن شی او شتمن پاتې شی، ډېر لږ پر چانس او بخت تکیه وکړئ. شتمن خلک پر دې باور دي چې د ژوند لوری یې باید خپله وټاکي. څېړنو ثابته کړې چې ۹۰ سلنه خلک د خپلې بدبختۍ اصلي لامل خپل تندی او بخت بولي، خو داسې نه ده. راتلونکې مو په خپل لاس کې ده څه ډول چې وغواړې برابرولی یې شی. د شتمنو خلکو یو عادت دا دی، چې غواړي له نویو خلکو سره وپېژني. څېړنو ښودلې چې ٦۸ سلنه هغه خلک چې شتمن دي له دې سره مینه لري چې له نویو خلکو سره وپېژني او اړیکې ور سره زیاتې کړي. دغه چاره د دې لامل کېږي چې نوي څه زده کړي او خپل کار و بار ته پراختیا ورکړي. خو برعکس هغه خلک چې خپلې پیسې نه شي زیاتولی او نه یې شي ساتلی، یوازې ۱۱ سلنه یې د دې مینه وال دي، چې اړیکې پراخې کړي او له نویو کسانو سره وپېژني.

### دغه کارونه مو غاښونه خرابوي

د ښې روغتیا لپاره روغ غاښونه تر ټولو حتمي دي. د ورځې دوه ځلې د غاښونو برس کول له ناروغیو د هغه د ساتلو لپاره ضروري دي، خو ځینې داسې عادتونه هم شته چې له کبله یې غاښونه یا خو بیخي له منځه ځي او یا یې هم د خرابېدو بهیر گړندی کېږي. د نشه يي توکو استعمال یا د سیگرټو څکول، په غاښونو کلک شیان ماتول، د نوکانو ژوول، غاښونو کې د لرگیو ډکي وهل، د سختو شیانو او خوراکونو ژوول، غاښونه په ناسمه طریقه سره برس کول، د غاښونو ډېر پالش کول یا سپینول، لږ خوراک کول؛ څکه ډېر کم خوراک کول جسم له مهمو معدني موادو څخه محروموي. معدني مواد د روغو غاښونو او وریو ساتلو لپاره ډېر اړین دي. خو که په ورځنی ډول د ډېر وخت لپاره ډوډۍ کمه وخوړل شي، نو په خوله کې لاړې کمېږي چې له کبله یې په خوله کې تیزابیت پیدا کېږي او په پایله کې غاښونه خراب او هم چینجن کېږي.



## ماسټر ډبټ کارت

د عزیزي بانک ماسټر ډبټ کارت له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتیاوو او شرایطو سره سم ډیزاین شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پیسو ته لاسرسی لرلی شئ.

- په ټوله نړۍ کې له 25 میلیون ډېرو سوداگریزو مرکزونو/پلورنځیونو کې د منل کېدو وړتیا لري.
- د دې لپاره چې ژر پیسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشینونو څخه اخیستلی شئ.

www.azizibank.af 1515

عزیزي بانک
Azizi Bank

